**لیکونکي اوراپوروروکونکی:** عبدالمومن محسن *(A . Mouman)*

د داکترجک رسموس *(Dr.Jack Rasmus)* سره مرکه

 . 

محسن عبدالمومن      داکتر جک رسموس


**منبع اودخپریدو نیټه** : ګلوبال ریسرچ (2019-06-08)

**ژباړونکی**: پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .

---

# دنړیوال پانګوالي بحران په اړه : سیستیمیک بدلونونه اوننګوني

# On Global capitalism crises: systemic changes and challenges




*په لاندي توګه سره د می په میا شت کا ل (2019) کی دداکتر جک رسموس سره دامریکی دهیرالتریبیون دراپور ورکونکی محسن عبدالمومن پواسطه سره دمرکی رغنده تیکي*

**محسن عبدالمومن** :د ستا سوپه نظرولي يواځي د پانګوالی په سيستم کی بحران رامينځته کيږي ؟

**جک راسموس:** دنړيوال پانګوالي اقتصاد کی د(1970) لسيزی څخه راهيسی شپږ لوی بدلونونه را مينځته شوی چي د احتما لي کمزوری ، بی ثبا تي ، زيا ت فقر اود لاندنی بی ثبا تو حالاتو د تبليغ کچی شد ت موندلی دی :

**۱ - د پا نګوالی نړيوال اقتصا د ته دپخوانيو استعماری مشرانو(نخبګا نو) پراخه يوځای کيد نه د ګډ همکاری تر سرليک لاندي .**

دغه دګډ همکا ری پراخه ګډ ون په (1970) لسيزه کی پيل شو.او د هغه د پيل کيدو دليل دا وه ، چي نړيوال پانګوا لی ، نفتي پا نګه يی سره يو موټی اويو لاس کړ او هغه دا چي دتيلواړوند پا نګوالوته اجا زه ورکړچي هغوی د خپل نفتی منا بعو توليد ملی کړي اود هغی څخه تر لاسه شوی عا يد يا ګټي پخپلو مينځو کی سره په شراکت واچوي او نوموړی شريکان کاملاً په دی يوه شی چي خپل تر لاسه شوی عا يد د پانګوالي له هسته ای (core) اقتصاد په مستقيم پيرودني يا دنړيوال با نکی سيستم له لاری بيا له سره کتني وکړی .متحده ايالات په (1980) لسيزه کی جا پا ن وموند يا په دی يی سرخلاص شوچی هغه هيوادد‌همدغی ډول کړنی څخه پيروی کوي يعنی چی جاپان په کال (1986) د مخکينی پا نګي څخه ترلاسه شوی عايد بيرته پرپا نګه علاوه يا سربا ری کړ.او اروپا هم په همدي شان دپام وړلړ پيما نی سره **د لوور** (Louvre = خلا صی دروازي ) د موافقتنامی له لاری له همغه لسيزی څخه په ادغا م يا په (integration) لاس پوري کړ وروسته بيا په کال (1990) ختيځ اروپا اوپه يو څه لړ وسعت سره جنوبی آسيا هم ورته کړنلاره خپله کړ اوبيا په کا ل (2000) کی **چين** هم په نوموړی پروګرام کی برخه واخيست – دغه له مخکينی پانګوني څخه تر لاسه شوی ګټی بيا له سره پر پانګی باندی اچول د پا م وړ اندازي سره دامريکی متحده ايالاتو پا نګي ته ستر ګټه ورسول يعنی چي امريکي ددي ډول له سره پا نګوني څخه زيا ت ګټه واخيست. او هغه موسسی يا نهادونه کوم چي دامريکی دمتحده ايالاتو تر واک او سلطی لاندی لکه دبين المللی صندوق پيسی (IMF) اونړيوال با نک دی، ددی ډول يوځای کيدو(integration) لپا ره شريکو پا نګوالو ته يولړ اسا نتيا وی چمتو کړ . د ترلاسه شوی عايد بيا له سره پانګونی (recycling) پروګرام دنوی شريکا نو په اقتصاد کي دمتحده ايالاتو بهرنيو مستقيم پانګي اچوني په زيا ت چټکي سره يوځای وه – **دالر** امريکی ته دامريکي دخزانه داری دپور ورکولو ورقی (بلونه)اوددی ورقو دبيا پيريد لو اجازه ورکړی وه چي دخپل دبودجي کسر له لاسه ورکړي او هغه هم ددفاعی جګړی تر عنوان لاندی جګړه کی د مصارفاتو سرعت يا بيره اوپه عين وخت کی د لسګونو مليارډو ډالرو په اندازه سره دسوداګرويا دپا نګوالو دما لی ورکولو په حجم اواندازه کي تقليل راوستل له سره رغونه يا ترلاسه شوی عايد له سره په پانګي اچول امريکی ته دا توان اوقدرت ور په برخه کړ

چي خپل پوځ  په یو نړیوال ځواک واړوي  اودیوی تریلیون دالر   بودجي  سره وکولای شی دنړي په سرتاسر او  دنړی په ټولو وچو کي تر (900) نظامی  اډی  جوړ او خپل پوځیان ځای پر ځای کړي . اقتصادی یو موټی کید نه  امریکی ته  دا قدرت  ورپه برخه کړ چی د خپل با ند نی نړیوال  سیا ست  په پلی کولو سره د (لرګی اود ګازري) پالیسي د خپل نړیوال  امپراتوری  د یو دوامدار کا ر په بنه تر سره کړي – اما ما لی اونړیوال اقتصادی ادغا م یا یو موټی کید ل هم په دی مفهوم اویا معنی دي  کوم چي هغه بحرانونه چي په متحده ایالاتو یا دهغه امپراتوری دکلیدی همکارانو اویا شریکانو  اقتصادی ملګرو (کانادا،مکزیک، جاپان - اروپا) ته مخه کړی نوله  همدی وجهی څخه دی چی دنوموړی امپراتوری د اقتصادی شریکا نو پوری ادغام کړ شوی ما رکیټو ته هم دغه  بحران خپل لمن پراخوي اودغه یو موټی شوی  اقتصادونو ته  دنوموړي  بحران  د میزان  یا دکچي پراخوالي  د تقویت اود شد ت په حا ل کی  خپل مخه ته دوام ورکوي .

**2- نړیوال  اقتصادی  ما لي رغونه  اود ما لي شتمنی د نسبی تغیر لپا ره پا نګونه.**

ما په خپل ځینوتفصیلاتو کی ( دنړیوال شکنن اقتصا دی نظام  باندی  کوم چی هغه د «1980»لسیزی له آوایلو  څخه را په دي خوا په لاره کي ولویدلي  دی  ) پری بحث تر سره کړي اوهغه داچي دما لي شتمنیوپا نګونـي په لور سرمایه ګذاری  یونسبي یا پرتلیزه بدلون یا یواړخیز تغیر دي  یعنی دغه بد لون یو  ساختا ری   بدلون دی  نه  یو تقلیلی یا یو تنزیلی اغوښتنه . اما په حقیقت کي  د دغی بدلون   چټکوالی  د  تکنا لوژی دورځ په ورځ ودی سره ترسره کیږی  اوپه ما لي مارکیټ یا بازار کي  دډیر ګټی   تر لاسه کول هم یومهم چلونکی دي ، دما لي شتمنیو  پانګونـي  بدلون لکه څنګه  چي  زه هغه را یادوم دهغه پایلي  دماشین الاتو ، تجهیزاتو داصلی پانګونـي   څخه تحریف یا لاری بیلول دي ، دغه وروستنـي جریان دوام لري  او ممکن دي  چي د خپل  صفحی  یا دوري   په اوږدو کی  نورهم وده وکړي ،اما نسبی شرایط  دهغه ودی ته تنزیل ورکوی چی حتی   دما لي دارایي (شتمنی)  پانګونـي  په مقایسه کولو سره  دغه کمي یا کمښت   هم را مینځته کیږي ددی انفجار په دننه یا  هسته کي آزاد پیسي دمرکزی با نکونوله خوا چمتو شو چي بیا  په کا ل(1970)کي د**بریتون اوډ** (**Bretton Wood=دغه تړون  په کا ل«1944»**
**کی رامینځته شو چی یونړیوال پولی نوی سیستم دي چي سره زر (طلا) په نړیوال کچه سره دامریکي د دالر پرځای  راکړی ورکړی کیږی    اوپه دی توګه سره امریکا د نړی په سراسرکی دیو ځواکمن  اقتصا د ځښتن کیږي** ........**تفصیل ددی  قلم پواسطه سره )**
بین المللی پولی سیستم  په د له مینځه تلو او دړی وړی کید و سره دغه راکړی ورکړی هم ختمه شو .

تکنا لوژی او د پیسو هغه  ټول نور شکلونه وروسته د کا ل (دوه زرم) څخه د پیسو او پیسو ته ورته  دپیسو ځنی نور شکلونه  دپورونو  په چاودید لو کي  دا ضافی پورونو

*په ورکولو سره خپل ونډه ترسره کړ او دغه جریان په ټولو سطوحو لکه په حکومت ، بانکونه ، غیربانکونه دکورپه دننه اوبهر کي ولیدل شو یعنی داعتباراتو پوقا ني (حباب) وچاودیده.*

*دا پخپله د پور په اندازه کي څه ستونزه نشته ، اما کمزوری یا ستونزی د دی پورونو په خد ما تو(یعنی دپور په بیرته ورکولو اودهغه پر یولړاصلو )کی شته اودغه ستونزی هغه وخت را پیدا کیږی چي ( ددارایی ،کا لیواود ورودی قیمتونو ) ارزش یا قیمتونه سقوط وکړی اودقیمتونو را ټیټیدل هغه وخت را مینځته کیږي چی دما لی پا نګي پوقا ني ( حبا بونه) له دننه څخه وچوي . دغه شتمنی یا ثروت یو د بل ځای نیسي اوهغه داچی کله ددی شتمنیو د یوه شتمنی قیمت را ولویږي نو پر نورو دارایی اویا شتمنیو باندی هم خپل ورانونکي تا ثیر غورځوی . پس دارزش یا د قیمت سیستم د ا نتقا ل میکانیزم دي، دا مفکوره په لویه کچه داقتصادی داصلی جریان سره مخا لفه ده چی سیستم قیمت ثابت سا تی اوبازار دعرضه اود تقاضا په نظرکی نیولو سره تثبیت کیږی. چي دا خپله یو افسا نه دي حال داچي د قیمت سیستم پخپله یو بی ثبات کونکی روند یا فنومن دی دلته یواځی(دقیمت یوسیستم ) نه دی بلکه داصلی جریان خطا بل دی ،دلته په هرصورت دری ډوله د قیمت سیستم وجود لری چی یو دبل سره تړلي دي اما دهغو رفتا ر سره متفاوت دی یعنی هغوی د ما لي شتمنیو، کا لیو ، خد ما تو اود قمیت ګذاری قیمتونه لکه (اجوره یا دکار قیمت ) دي .دما لی شتمنیو پا نګوني ته نسبی بدلون ورکول، دما لی شتمنیو مخه د قیمتونو د لوړوا لی کچه د حبا ب (پوقا ني) ترحده پوری لوړ وړي چی بیا وروسته په انفجا ری بڼی سره دکا لیو اودورودی قیمتونوپخپل وارسره د بیو د کمښت له امله اقتصاد دژوربحران خواته وړی چی ددی را پیدا شوی بحران څخه سمدستی وتل آسا نه نه دی بلکه ممکن دی چي په پرله پسی یا په تتد ریجي بڼي سره له دغه بحرانه ووتل شي. اما د ما لیا تی شتمنیو ( financial asset ) بد لون اوتورم (پړسوب) ډیر منفی اغیزی لری ، د ګټي یا دبهره وری ټیټوالی یا تنزیل دواقعی پانګي دټیټوالی له امله وي،چی اجوره (دکارقیمت) را ټیټوي اودهغه په اړخ کی دبیکاری اوبیا په ځانګړی بڼی سره د بی روزګا ری یا د نیمه وخته کا راندازه ډیر اوچتوي .*

***فینا سیا لیزیشن** ( finacialization ) هغه ډول جریا ن دي چي دهغه په ذریعه ما لی موسسا ت، با زارونه د خپل د نفوذ د زیا تیدو په لټه کي اوسیږي.......**ددی قلم پواسطه سره** ) دغه (financialization) په با نکي سکتور کي نه د سود (ګټي) دونډی اونه هم دشغل پر ستنو متکي وی ، بلکه دا په واقیعت کي دما لی شتمنیو دقیمت یا دبها دار اوراقو« په ځانګړی بڼه دهغه مشتقات» پواسطه سره تعریف شوی دي . نن دنړی په سرتا سر کي اوبړین یا مایع بازارونه (هسی با زار ته ویل کیږی چي هلته د دادوستد یا د راکړی اوورکړی معاملات یو څه سست او سوړ اووسی...**ددی قلم پواسطه سره** ) رامینځته شوی دي. چي په هغه با زارونوکي دغه د بها دارو اوراقو تجارت*

ترسره کیږي او نوی ما لی موسسا ت دا سی تجا رت ته تبا رز ورکړی دي یا چی دی ډول تجارت ته رونق ورکړی دي کوم چی دا ډول تجارت ته د دبا نکی سیستم سیوری (shadow) نوم ورکړ شوی دی – ددی بها دار اوراقو په شا وخوا کي بازارونه او بنستیزنوی کا ری چوکات ( چي په نړیواله کچه دتکنالوژی له کبله فعالیت کوی) دنوی نړیوال پانګوني نخبګان (زورواکا ن) د انسا نی عواملو په توګه چی زه هغوی ددی نړیوال نوی جوړښت (financialization ) ترعنوان لاندی تعر یفوم را مینځته شوی دي – دغه دنړیوال ما لی پانګی نخبګان اوس دلوړ اود اعتما د وړ دارایی ګانی یا د شتمنیو کار وبارمشرتوب او مدیریت کوی یعنی دسنتی تجاری با نکی سیستم ( لکه څنګه چي په چټکه بڼی سره د سایه ای با نکداری ) څخه سرپرستي یا مدیریت کول دي .اما د سیوری بانکونه تقریباً له کنترول کولو څخه د با ندی دی یعنی غیر قانونی فعا لیت کوی اوله همدی کبله د زیا تو خطرنا کو ما لی پا نګوني په برخه کی سره ښکیلتیا لری چی د اوږد مها ل بدلون تر شا د ما لی پا نګونی لپا ره دي اوپه نړیواله کچه بی ثبا تی را مینځته کړی دي .

### 3- د نړیوال با زار بیا له سره جوړونه او د کا رګری اتحا د یی دړی وړی کیدل

البته چی ټول معا صر پانګوالي ما لی پا نګونه ( Financialization = دیو هیواد دما لی سکتور داندازی اود اهمیت زیا توالی راښیی چي دهغه هیواد ټول اقتصاد سره تړاو لری ما لی کول په داسي حا ل کي رامینځته شوی چي هیوادونه له صنعتی پانګونی څخه لیری شوی دی دا د مکروا یکونومی (macroeconomy) اود ماکروایکونومی (microeconomy) د دواړوتاثیر دی چی دمالي بازارونو جوړښت څنګه جوړ اوڅنګه په کار ولویږي اودشرکتونو چلند اودهغو اقتصا دی پالیسی پر هغه څه تاثیر اچوي .... تفصیل ددی قلم پواسطه سره ) نه دي اودا ځکه چي لا تراوسه غیرما لي تولید دوام لری اوپه واقیعت کي دغیرما لي خدماتو په سکتورکي لا وده او پرمخ ځی. اودا پخپله په دي مفهوم دي چي د ما لي پا نګوني په عنوان سره ګټورنه دي اوپه نتیجه کي کم سرمایه دهغه په پرتله پر هغه پراختیا مومی ، Financialization د پانګي زیا ت پیسي په غیر ما لي پانګونی سره له لاری ګرځوی یا منحرف کوي یعنی داسی یو حرکت کوم چي په دوهم برخه کی دسود دتیتیدو موجب کیږي. نو د دی نقیصی د مینځه وړلو لپا ره باید چی دواقعی ما لی پا نګونی په لګښتونو کي کمی راورل شی او تولید په تتدریجی بڼی سره صورت ونیسی.

مونږ په اوسنی وخت اوزمان کي دنړی په سرتاسر دکار په بازارونو کي دعمده اویا داصلی تحولاتو شاهد یا ستو چی یو له هغه تحولاتو څخه د کا ر دقیمت (اجوره) دعاید ټیټوالي دي کوم چي مونږ دنړیوال ادغا م په مورد کي پر هغه با ندي ددی لیکنی په دوهم ماده کی په تفصیل سره خبری وکړل. چی د **افشورنګ** ( offshoring = یعنی چی یو

شرکت خپل ټول اویا دخپل فعا لیتونو یوه برخه د هیواد څخه دباندی نورو هیوادونو ته داجوری اوداومه موادو د بیو د ټیټوالي په نظرکی نیولو سره لیږدوی یا انتقا ل ورکوی افشورنګ اغلباً د بینیس «کسب وکا ر» دمصا رفا تو د تنزیل لپاره پکا ر وړل کیږي ... ددی قلم پواسطه سره تفصیل ) د تولید د لوړ اجوری اودمشا غلو د نورو برخو سره په دی نوی رامینځته شوی بازارونو کی یوځای یا مل دي نو وروسته د پا نګي ا یستل دپا نګوالی له دننه یا د سرما یه داری د ا صلی کور (متحده ایالات ،اروپا او جاپا ن ) څخه نوی را ایجا د کړ شوی اقتصادی بازارونو څنډی ته سره سره بیاهم په عین وخت کی لا تراوسه تجا رت یا راکړی ورکړی اودکا لیاوخدما تو تولید دا صلی کورپه د ننه کی هم ترسره کیږی او ددی مفهوم دادی چی دوی یعنی سوداګران دخپل سیا لو ډلوسره په نوی ایجا د شو با زارونو کی د رقا بت په تشد یدولو سره غواړي چی د تولیدا توپه مصارفاتو اولګښتونو کی رقا بت وکړی یا خپل مصا رفا ت ترهغه چی یی وسه رسیږی کمه کړی. دا په دی معنی دی چی دکار شرایط لاپسی د کارګرو لپا ره ( دکار دمهال اوږدول ،اوږد کار په وقفوی یا ګذری کارونو سره بدلول کارګرانو لپاره د تشویش اوله کار څخه دایستلو ستونزی برابرول ) سختوی یعنی چی دکارګرانوامتیازونه یو دبل پسی له مینځه وړل دی په احتما لي بڼی سره دکا رګری اتحا د یی غیر فعا ل کیدل یا دهغه دغړو په شمیر کي کمی راوستل اود چڼی وهل روند له مینځه وړل ټول هغه څه دي چی پانګوالو هغه تر سره کوی حا ل داچي په مخکینیو اتحا د یو کي ځنی عایدات دبحران څخه د کسب وکارد چرخي په موده کي له مینځه تلل کوم چي اوس دا حالت نه را مینځته کیږي ځکه چي په غرب کی اوس هغه اتحا د یی دړی وړی شوي دي . د بلی خوا څخه دمشاغلوله مینځه وړل دکارګرانو د نا امنی کچه لوړوی او کارګرانو چي په جمعی بڼی سره دخپل دکاردشرایط اوداجوری دښه والی په برخه کي په اعتصاب لاس پوری کول یا داچي دپا نګوالو په مقابل کی دکا رد سختو شرایطو له امله مقا ومت کول اوخپل دغه مقاومت دخپل اتحاديي دسیاسیی نفوذ له لاری پلی کول اوس دغه سیاسی نفوذ داتحا د یو له دړی وړی کیدو څخه دلاسه ورکړی دی اوددی توان نه لری چی دخپل ا جوری دلوړ ولو دپاره په مبارزه اویا په اعتصاب لاس پوری کړي کوم چی او س هغوی له دی امله رنځ وړي .

نو په دی توګه دکا رد با زار بیا رغونه تجاری زورواکا نواو سیاستوالو ته په یو زړه پوری پروژی اغوښتی دي – داپخپله ددندی نشتوالی (افشورنګ) بڼه اخلي کوم چی متحده ایالات دیودولت په حیث په مستقیم ډول خا رجی پا نګونو سره کمک (سبسیډ ی) ترسره کوی چی داپخپله دندی جوړونه دي کوم چي اوس په ځا نګړی توګه دامریکي جا پا ن او اروپا پرمخ وړنکی پانګوالیز اسا س او بنسټ کی را ښکیل دي .

په دي وروستیو لسیزو په اروپا کی له (60) تر(80) سلنه پوری کا ری فرصتونه د ( نیمه مها ل ، موقتي یا د پا رت ټا یم ) په بڼه پیدا شوي چي دا پخپله داقتصا دله مخي

د ا تحا د يى چلند كمزوره كوي اودا په دي مفهوم دى چى داتحا د يي د غړو د قانوني كا رڅخه مخنيوى اوهغو ته محدوديت را مينځته كوي نو كله چي اتحاد يي له سياسى پلوه كمزوره شي نو هغه وخت را رسيږى چى داتحادى دغړو ټول امتيازات لكه حد اقل اجوره ، تقاعدى معاش ، روغتيا يى بيمه او ځنى نور حقونه كميږى اويا له مينځه ځى،نوكله چي دغه نها دضعيف اويا كمزوره شي نووروسته له هغه اتحاديه اودكارګرانو برخه ليک دتجارى مشرانو دكړنو اود اقداماتو له امله تر حملي لاندى پريوځى اويا داچى د تر ضربى لاندى كا رګرا نو څخه نور كا رګران دفاع نه كوى او دا كارګران د ناهيلو اد نا اميدى په حا لت كى را پريوځى او داسى وخت را رسيږي چى بيا سياسيي ګوندونه دسوداګرو په رهبري سره دملى قوانينوو ړانديز مخ ته كوى اوپه قسمي بڼى سره دجزيى تغيراتو ګډ (codfy) جوړوى اويا دهغى ګډ ځنى برخي لا پسي ټينګوي .

لكه همغسي چي ما لي پا نګوالي اقتصا د دعا يد اود ثروت (دارايى) د تراكم اويا د ذخيرى كولو موجب ګرځى نود ما لي نخبګا نو (زورواكا نو) اود كسب وكا ر دطبقى پواسطه سره دغه روند ګړندى كيږي. دبلى خواڅخه د كا رد بازاربيا رغونه خپل د ركود يا د بحران رغنده تا ثير (پرځنى كا رى ګروپونو باندى لكه دهغو د معاش را كميدل ) د اجورى پر عا يد باندي اچوي ، پخواني ما لي بيا رغونه دعا يد ا تو اودشتمنيو دنا برابرى سبب ګرځى چي حتى دبازار دبيا رغوني د كا رڅخه په سرعت اويا په چټكي سره كړندى كيږي كوم چي د كارګري طبقي دعايد اوداجورى در كود زمينه را برابروي دواړه بيا رغوني يعنى څه پخواني او څه اوسني په ګړندي بڼى سره دعا يد د نابرابرى موجب ګرځى كوم چي مونږ اوس دغه مسله په رڼى سترګى سره ګورو يا دهغى شاهدان ياستو ،چى د ثروت (دارايي) دعايد دنابرابرى سره پخپل واروده كوي .برعكس دزيا تو شتمنيو را ټولول اويا سپمول حتى دغير دارايي دعوايد و نا برابرى را مينځته كوي نو دا ددوه عايد اوشتمنى نابرابرى دما لى اودكار وبار د ټولګيو په ګټه نا برابرى يوبل سره تغذ يه كوى ترڅو چي لا پراخه اوغښتلي شي او په ورته وخت كي دمعاش يا داجوري عا يد محاسبه كوي .

## په نړيوال اقتصاد كى سيستميک كمزورتيا :

په دى ډول د كارګرى اتحا د يى له مينځه وړل يا دهغه نه موجوديت ، د اجورى فشا ر دټولنيزو ګټو كمول ، د دندو نشتوالي داجتماعى معا ملو اودكا رګرى طبقى داعتصا با تو نه موجوديت دچڼى وهلو د فعا ليتونو له مينځه وړل اود با زار داصلاحا تو د قا نون نشتوالى اويا په عمدى بڼى سره له مينځه وړل ټول له يوسره دكا رد با زار د بيا رغوني اهداف اوپا يلى دى كوم چى تر يوه زيا ته حده پوري د سرمايه يا د پا نګي يا دهغو سرمايه دارانو په ګټه دى چي د هيواد يا د كور په د ننه اقتصا د كي دراكړي وركړي فعا ليتونه ترسره كوي .

***ما لی* ( financialization ) او *سبسیدایزیشن* (subsidization) یا نګونې چې د سرما یه داری دولت له خوا په مستقیم بڼې خا رجې یا نګونې سره مرسته کوی یا هغه یا نګي سبسیدای کوی اوبیا دهغه سره مل د نړی دآزاد تجا رت توافقنامه عمد تاً د څنو څو ملیتي شرکتونو په ګټه دي . دآزاد تجارتي توافقنامې اودپانګوالی دولت د سبسا یدی کولو له مخې څوملیتی (Multiple) شرکتونه د روش اود تګ لاری له مخې په دوه جلاګروپونه ویشلې دي: کوم چې دوی په عمده بڼې سره دمتحده ایالاتوکې شمیر تجا رتی شرکتونه اونوربا نکونونه دی چې د با نکی کولو د مطلوبو شرایطود را برابرولو په لټه کې دي .آزادسوداګری راکړی ورکړی نها دونه هم د څو لویو څو ملیتی شرکتونو د مصارفا تو د کمولو خد ما ت تر سره کوي اوداځکه چې شرکتونه امریکې ته د کا لي اود خد ما تو په بیرته راوړنې اویا راګرځوني اوهم د تعرفو (مالیات) د بیا واردونکی (بازپرداخت) توان ا وقد رت نه لری د بیلګې په بڼه : دامریکی (40) سلنه **چین** سره د تجاری راکړی ورکړی چې تقریباً (500 ) ملیا رده ډالر کیږي تجا ری کسر لری کوم چې په دغه تجارتی کسر کی هغه کا لي شامل دی چې دامریکي دشرکتونو له خوا د **چین** په دننه کې جوړیږي .*

## .4 - د پخوانیو تولنیزو دیموکراتیک ګوندونو او حرکتونو ویجاړول :

*مونږ دنړی په هره برخه کې د تولنیز د موکراتیک ګوند ونو د مینځه تللو شا هد ان یا ستو کوم چې یو ځل یې حکومت ترلاس لاندی راوستي وه یا دحکومت واک په لاس کې یي لرل . چې دا یوه ښرګند حقیقت دي کوم چې داروپا د سوسیا ل د موکرسي په د موکراسی حوزه یا د دموکراسی د زړه په دننه کی او په همدی شا ن په متحده ایالاتو جنوبی امریکا اواسرایل کی دا رنګ نها دونه ، ګوندونه په قدرت ا و تسلط کې وه کوم چې بیا هغوی هغه اقتصا د ی سیستمونه یی په آسیا کې چې په هغه کې دمخه دسوسیا ل دموکراسی کمزور شکلونو سره شریکی درلود غوره کړ یا په بل عبا رت چیرته چې د تولنیز دموکرا سي کمزورحزبونه وجود لرل هغو سره په شریکه له سره اقتصادی سیستمونه جوړه کړل. د ښی اړخ پوپولیزم سرپورته کید نه یا رامینځته کید ل باید چې دیو یا یلي په بیلګه د یو سیا سی خلا نتیجه اووسی کوم چې د سوسیا ل د موکراسي له دړی وړی کید و ځخه رامینځته شو.ریښتیا چې دا همدا سي دي ، ا ما پوښتنه دلته دا دي چې هغوی ولي کمزوره شویا له میدانه ځخه ووتل ؟ اویا ځرنګه دهغو دکمزوری اودله مینځه تلو په نتیجه کې نړیوال اقتصادی ادغام ، ما لي بیا جوړوني ، دکا ردبا زارونو رغونه ، دما لي پا نګي تغیر اودعایداتو اود ثروت د نا برابری د شد ت موجب وګرځید دا په اصطلاح سره هغه اصلی او کلیدی پوښتنې دي چې د هغه ځواب تر ننه پوری په اصطلاح د چپ غورځنګونو ، ګوندونو اود مترقی او مخکښ عنا صرو په مینځ کې با قي پا تې دي اوچا ددی سوال ځواب نه دی ورکړي . دسوسیال دموکراسي زوال یا له*

مینځه تللو ځنی احتما لي عوامل څه په سیا سیی سطح کي دسیا سیی بنستونو ، داتحا دیو اودهغو دسیاسی نفوذ ویجاړیدل کیدای شی چي په نظر کی ونیول شي چي تر یو حده پوري د دغه نها دونو یا د دغو(سوسیال دموکراتیک) احزابو ستر استراتیژیک اشتبا ه وه اوهغه داچي هغوی خپل ځا نته اجازه ورکوي چی دنیولیبرالیزم تهاجم کوم چي په کال (1980). کی شروع کیږي دهغو سره په نژدی اړیکي کي اوسیږي یا غواړی چي دهغو سره نژدی والي ولري .مګرهر څه چی وه داهغه پایلي دا سی وشوو چی نیولیبرالستان یا دنیولیبرالی مشران او دنظر خاوندان په ډیر چټکی سره دسیاسی قا نون په نوی کولو کي خپل ځنی ابتکا رات په کا رواچول چی دهغو ا بتکا را تو مهم عنا صر لکه دما لی شتمنیو د پا نګوا لي رغونه ، اوپه نړیوال بنه د سرما یه داری دبا زارکا ررغونه دي کوم چی مونږ ددی مواردو په برخه لا دمخه بحث او خبری وکړل. **ا ما د ا با ید هیره نکړو چی پا نګي (سرمایه) هیڅکله دننی ورځ د کا رڅخه ځواکمن نه دي.**

نوله همدی کبله دی چي کارګره طبقه د کاردشرایطوپه وړاندي مقا ومت ته رای ورکوی پرته له دي چي د خپل ستونزی د حل لاری لپا ره د وړاند یزونو د کولو اویا دهغه د پلی کولو توان ولري ،لذا همدا مسله وه چي مونږ بریکست (Brexits) یعنی داروپا له اتحادیی څخه د بریتانیا وتل سره مخامخ کیږو – اوهغه داچي ښی لاس ګوندونه کوم چی په دروغو سره دبدلون وعده ورکوی ، یا دهغوی کړنه له و یلو سره توافق نه لری په غلطی سره موصوع بل خواته کږوی یا بحث ته انحراف ورکوی لکه دبیلګی په شان چی وایي مونږ دکارګر طبقی دپاره دکار شرایط ته بهبود ورکو اوځنی داسی نور تشو وعدي .نوپه همدي دلیل دي چی دونالد ترامپ ته رای ورکول کیږي یا چي بولسوناریس (Bolsonaros) **مکا ریس** (Macris) په جنوبی امریکا ، **سلبا نس** (savinis) او **اوربا نس** (Orbans) په اروپا ، **دوتیرتیس** (Dutertes) په آسیا کی رای ګټی .


بولسونا روس


مکریس


سلبا نس


اوربا نس


دیوتریس

اوس دنړي په سرتا سرکي کارګره طبقه د سیا سیی اقتصا د په لحاظ سره یو له بله جدا شوي دي او د دوی د بی حاصله یا د تشو ګامونو په پورته کولو کوم چي دهغوی څخه په بشپړه توګه استا ذ یتوب اخیستل شوي مید ان ښی اړخو ګوندونو ، اید یلوګا نو او ....... ته پریښی دی .کا رګره طبقه اوس یوائی اویوائی اوس په دوره ای ښی سره د خپل کار د شرایطو د سمون لپا ره چي دهغوي ژوند ته بد لون ورکړي کله نا کله په کا رګری اعتصا با تو لاس پوری کوي یا داچي د دوی ځنی ګوندونو او غورځنګونه ښی اړخوقوتونو ته خپل رای ورکړی دی کوم چي که چیری وشی کړی چی دخپل دکار شرایط ته یو څه سمون ورکړي .

## 5- د سرمایه داری دعمده سیاسیی ګوندونودتګ لاری بدلون :

د پا نګوالي د عمده سیا سیي ګوندونو د سیا سیي تګ لاری بد لون نه یوائی د خاصو غورځنګونو اویا د مترقی سیا سیی احزابو د دړی وړی کیدو اویا د ظهور له امله رامینځته شوی بلکه همد شان دغه بدلونونه دحکومت په مخکښ یا په سنتي احزابو کي هم رامینځته شوي دي ، په متحده ایالاتو کي جمهوریخواه ګوند دښی پوپولیزم دښی اړخ پالیسي خپله کړي دي او خپل دتیری لسیزي پخواني د **تي پا رتی** (Tea party) سره په یو ځای کید و کی رغنده بدلونونه پخپل تګ لاره کي را مینځته کړي دي لکه دحد اقل دموکراتیک تمایلاتو څخه صرف نظر کول اوهم پخپل ستراتیژیکی اهدافو کی دپام وړ تغیرات راوړي دي اوپه ورته ښی سره دامریکي دمتحده ایالاتو دموکرات ګوند په لمړیو مراحلو کي دمرکز څخه چپ اړخ ته تما یل هغه څه دي چي دهغه ګوند په پا لیسي کی ترسترګو کیږي . دغه د بدلون روند د سرته رسیدو پړاو ته نه دی رسید لي په انګلستان کي مخکینی نامي سنتی ګوندونه دبحران په حا ل کي دي اودخلکو ملاتړ له لاسه ورکړي دي ، ښی اړخ کمونیست ګوند د بریکسیت (Brexits) پلویان دمحا فظه کار ګوند په مینځ کي نوی سرپورته کړي یا را زیږیدلي دي اود بل خوا څخه دکا رګر ګوند یوشمیر ملی ګرایان اوهغو چي دمحیط زیست هواخواهان دی دهغوی ملاتړ هم دلاسه ورکړی دي ، ورته پیښی په فرانسه اوحتي په آلمان کی هم ترسترګو کیږي یعنی په هغه هیوادونو کی کوم چي دامریکي دمتحده ایالاتو دهغو په دفاع کی ولاړ دي اما ایتالیا ښی اړخ خواته په حرکت کي دي مرکزی ګوندونه په هر صورت د خپل مختلفو مراحلو په سقوط کی دي .

دغه دیاده شوی ګوندونو دپالیسی بدلون ددی موجب شوی چي په عایداتو اوثروت کی نابرابری رامینځته شي – اوهغه دپانګوالی قوتونو دنړیوال اقتصادی ادغام ، ما لی بیا رغونه اودبازار کار له سره رغونو سره اړین دي کوم چي دسیاسیی نظام په اړخ کي دسوسیال دموکراسی سقوط اودهغه په څنګ کي دپوبلیزم ښی ګوندونورا مینځته کیدل دي اما په مینځ یا وسط کي دپانګوالی سنتی ګوندونه زړیږی اوخپل داخلی بی تجربیکي

را ازما يي .

**6- دسرمايه داری دولتونو پواسطه سره دسبسا يدي شوی پا نګي دعا يداتوزياتوالي**

سرما يه داران په بشپړه توګه سره د ما لي اود پولي سيا ست پخپلولو سره په دی وتوانيد چي نوموړی پا ليسي د خپل مستقيم منا فعود ترلاسه کولو لپا ره پکا ر واچوي په تيرو وختونوکي د ما لي ، پولي اصلي ما موريت د بحران يا د رکود يا دکا ليو د تورم په وخت يا موده کي د پا نګوالي داقتصا د د ثبا ت تينګيد نه يا تيکا ووه . همدارنګه دما لي پيسو پا ليسي په دا سي بوروش يا طريقه پکا ره ول شوی وه يا پکا ر وړل کيد له چي ددي پا ليسيو ګټی يي دکاری ګروپونواونورسکتورونوسره شريکي کړي ،ا ما په دی (21) پيړي کي پا نګوالو دپولي سيا ست پا ليسي د( ما ليا ت ، دولتي لګښتونه ، دبودجی دملی پور مديريت ، دسود نرخ ، دافراطيت تنبه کول ، ا ستخدام او نور ) په برخو کي بدل کړی دي . نن ددی پا ليسي اصلی ما موريت د پا نګونـي عوايد په مستقيم بڼی سره په دواړو يعنی داقتصادی انقباض له دورو او وروسته دبهبودی په د ورو يا پړاونوکي سبسا يدی کړی دي کوم چي په دوامداره توګه سره د بهړی دنرخ تيت سا تل دا اجازه ورکوی ترڅوچي ثا بت ارزان پور (قرضه) اود څو تريليونو دالرو صد ور يا جا ری کولو ته لاره آواره کړي چي شرکتونو او کورنيو ته دپور په بڼه ورکړل شي. د سونګ (تيلو) توکودما لي شتمني ، د بازاراضا في عوايد (سهام ، دپور ورقي ، مشتقات اوداسی نور ورته اعتبا ری پا نی) حبا ب جوړوی چي دپا نګي د عايد سرانه درآمد له ما لي پا نګونـی څخه دي . چي په دي بڼی سره دڅو تريلينو دالرو څخه ما ليا ت نه اخيستل د تجارت ، شرکتونو ، پا نګوالو ، با نک لرونکو ، اود سا يه لرونکو بانکدارانو په ګټه دي. کوم چي يواځی هرکال په متحده ايالاتو کي د سها م له با زاره څخه د سها مد ارا نو با زخريد اود سود ورکولو لپا ره له يو تريليون دالر څخه زيا ت پيسي لګيږي. کوم چي دغه مبلغ په کا ل (2018) کي تر «1،4» تريليون دالر لوړشو اوپه عين زمان کي ددفاع په سا تلو اود تر سره کولو يا دوام لپا ره هم زيا ت ما لی تامينا ت اوبودجه په نظر کي نيول کيږي .

***سبسا يدی*** پانګونه په مستقيم بڼی سره دما لي شتمنيو پانګونـي ته بدلون ورکوي اوپخپل وار سره دمالي شتمنيو حباب (پوقانی) دلويو شرکتونو اودکورنيو پورونه پورته وړي اوپه دي شان سره بی ثبا تي (ما لي شکنند ګي ) په مرکز کي مينځته راولي اوپه عين زما ن کي ددولت دبرخي پورونه هم لوړوی اودهغه په څنګ کي د دولت مصا رفات د خد ما تو په جا ری ساتلو کي لا پسي زيا توي .

لذا د سرمايه داري دا قتصا د د ري اصلي برخي : **کسب و کا ر**(business) ، **کورني** (householdes) ، او**دولت** ( government) دپور اود تسلط دنفوذ دپيټی (با ر) سا تل دي. په متحده ايالاتو کي ددولت پور ( ملي ، سميز ، مرکزی با نک او دولتی ادارو

لپا ره ) له (دیرش) تریلیون دالرو څخه زیا ت دي اوداسی وړاندیز شوی چي تر کا ل (2030) پوری پر دغه پا نګي با ندي (20) تریلیون دالر نورهم زیا ته کړل شي کوم چي دکورنیو لپاره دپوروړکولودغه بودجه(14) تریلیون دالرو ته وروړسیږی.اوداحتما ل په توګه شا ید چي (75) تریلیون دالرنور پیسی وربا ندی زیاته کړ شي . لذا دا د ارزولو وړ دي ، مګر دا دپوره دپا نګي زیا تید نه پخپله ستونزه نه ده ، ستونزه هغه وخت دی چي د پوررونو دعواید و د خدما تو چا ری ته دوام ورنکړل شی یا په بل عبا رت د پورد ترلاسه شوی عواید و د خد ما تو اوداجراتو دوام ته وسه دلاسه خي. اودغه خلا لا پسی د زیا تید و په حال کی مخ په و ړاندي ځي ، حا ل داچي د ما لي پانګي قیمت اود نورو تولو برخو قیمتونه را تیتیږي نو کله چي دقیمتونو را ولویدنه په مالي بازارونو کي پیل شی بیانو داپخپله دبحران کیمیاوی زیاتوالی دی چي دپوررونودستونزی پوقا نی چوي اودغه سقوط په موقتی دندی (contagion) اوچتیک بڼی سره له ما لي شتمنی څخه د واقعی اقتصاد دلا پراخیدو پخوا پراخیږي. اود پوررونو د مجموعی ا نبا شت یا تراکم په دولتي سطوحو کي په سنتی بڼی سره دما لی اود پولی سیا ست کوم چي داقتصا په ثبات کی نقش لوبوی هغه نقش د مینځه ځی یا د نوموړي نقش په مقا بل کي موانع راپیدا کیږي پس دغه ټول کوم چي مونږ ورڅخه یا دونه وکړ په ګډه سره داسی تر ا ستفا دی لاندی ولویږی چي دهغه په تر څ کی **سبسا یدی** له مینځه ځي .

## د نن ورځ پانګوالي ته دځلورو اساسي اصلاحا تو د ننګونوپه اړه :

محسن عبدالمومن: ***تا سي یو ځلاند ا قتصا دپوه اویوراوتلي نا مي لیکوال یا ستي کوم چي دډیرو زیا تو اقتصادی کا رپوها نو په خلاف کوم چي د تا سیساتو سره تړاو لري اوهیح یوشي ته ژورنه ګوري اما تا سو د ډیروسختو بحثونو اود محتا طا نه کړنو سره خبرداری ورکوي کوم چي مونږ د بحرانونو د بل پړاو لپا ره چي د مخکینوی بحرانونو په پرتله ډیر جدی دی آیا پا نګوالی سیستم اصلاح شوی یا آ یا مونږ باید ژر ترژره د بل اقتصادی بد یل درامینځته کید و په لټه کي ونه اوسوو ؟***

**جک راسموس :** دا په دي اړه لری چی د اصلاحا تو څخه ستا سومقصد څه دي؟ دلته په ښکاره ډول ځنی کوچني اصلاحات یا ریفورمونه دي کوم چي دعامه خلکو د مینځنی (حد وسط) عاید د تامینولو لپا ره اهمیت لری اوهغه عبا رت دی له : د ژوند معیاری سا تنه ، اسا سی حقونه ، مد نی آزادی او مصونیت. دمتحده ایالاتو اودنړیوال پانګوالیزم دپا لیسي اصلی بنسټیزم خوزښت اویا دهغه ټالولو(توقف) با ندي په شمول د پا نګوا لی د بحران په لور حرکت کوم چي ما مخکی پرهغه با ندي خبری وکړ ننګونه مه کوي اودا ځکه چي دا پخپله اصلاحا تي جوړښتونه شمیرل کیږي اوهغه کیږی چي په اسا سي بڼی سره په (21) پیړي کی دنړیوال پانګوالی مسیر ته بدلون ورکړي ،البته چي د سرمایه داری د دغه اصلی ریفورمونه یا اصلاحا تو په وړاندی ددی نظام استاذی په ډیر شد ت

سره مقا ومت تر سره کړي دي چي د دغه اصلاحا تو دتغير مخه ونيسي کوم چي د تغير وړ دي ؟

دوی به بد لون ومومی يعنی چي د ما ليا تو درول اويا د هغه بيرته را ګرځيد نه دڅو قوتونو يا د ګڼ شمير پا نګوالو عوايد اودهغو ا قتصادی دارايي ته چټکی به ور وبخښی نو هغوی دهمدی دليل پر بنيا د په بيرته استنيد و باندي تينګا ر کوي يعنی نه غواړی چي تغير رامينځته شي دوی معکوساً اوس په دی تازه لسيزو کی دکار په بازارونو کی دپراخ بدلونونويا داصلاحاتومخه نيسی د بيلګي په توګه له دی نه چی د کا ردشرايطوڅخه ځان ګوښه کړي نود هغوی د اصلی دندی مخه د کا ر پر ځای پرنيم مها ل او دګذری دندی دکارګرانو په استخدام کی اقدامات ترسره کول دی کوم چی بی ددی اقدام څخه که چيری دوی دکار شرايطو ته غاړه کيږدی نو په هغه صورت کی کا رګری ا تحا د يی بيا به ورغول شی او دپراخي چنی وهلو چا نس به کا رګرانو ته هم پيدا شي.

دوي مرکزی با نکونه د موکراتيزي کوئ اوهغوی ته دخد ما توداجراکول لپا ره ددندی دنوی وظا يفو لايحه ورکوي يا ورته نوی دندی ورسپا ری نه يواخي دبانکونو لپاره بلکه د ټول ټولني لپاره چي په دي ډول مرکزي با نکونه دعمومی با نکی سيستم ديوی برخي په شان دپراخيدو موجب کيږي ( ما پخپل وروستی کتاب کی په دی مورد نوی قا نونی پيشنها دونه ورکړي چی په دي برخه کي ورباندی کار وشی ).

په وروستيو لسيزو کی دما ليا تو دټولولو په اړوند يوڅه تغيرات رامينځته شوی چی د کسب وکا ريا د بيزنس دخلکو د زيا تو عوايدو موجب رابرابرکړي دی چی دولتمندانو شايد(يو) سلنه پوری شا ته حرکت وکړی اوهغه هم شا يد چي د ما ليي د يوډول معاملوی ماليا تي سيستم دلاری په استفادی سره دهيواد څخه دباندي دما ليی په ورکولوکی د تقلب څخه په ګټه اخيستو سره د جنا يی جرم څخه د زندان دوخت يا دمودی تضمين تر لاسه کړي اوالبته چی دجنګ کلنی لګښتونولپا ره بودجه چی يوتريليون دالرکيږی داصلاحاتو تر عنوان لاندی په پا م کی ونيول شي دا ټول ا صلی اصلاحا ت د(يويشتمی پيړي) د پا نګواليزم د ميکا نيکی حرکتونو مسير ننګويی ، کوم چی پا نګوالانو ددي ډول ريفورمونو په مقا بل کی سخت مقا ومت کوی يعنی چی ددی ډول اصلا حا تو څخه مخنيوی کوی .اوهغه هم په دی معنی چي سيستم نه اصلاح کيږي يا داصلاح وړ نه دي، ځني جز يی يا لږه کی اصلاحات ځنی وختونه مجاز دی اود سيستم د بحران په موده کي ځنی ځا نګړی امتيا زات بخښی اما دواړه ډول اصلاحات با يد چي په کلکه سره تعقيب کړل شي .

په دی (يويشتم پيړی) په امريکي کي دامريکي تر نفوذ لاندی دپانګوالي په مقابل کي څلورلوی ننګونـي(چا لش) وجود لری چي آيا سيستم کولای شی پردغه څلورولويوننګونو باندي لاس بری پيدا کړي که چيری ونشو کړلي چي دغه ننګونـي دټولوخلکويا دغير پانګوالانو پواسطه سره وپيژنو نودا به پخپله يوما تی او ناهيلی وی چی بيا هيڅکله وبه

نشوکړلی چي دژوند ستاندارډونو ته بهبودی ورکړو اویا حد اقل د ژوند د ستاندارډ هغه مخکینی سطح وسا تو نوکه چیری داسی پیښه را مینځته شي نو دا به دبدلون یو لوبه وی کوم چی په هغه صورت کی به ددی ځلور و ننګونو سره مخا مخ کیږو :

## ۱ - آیا پانګوا لي په دوه راتلونکو لسیزوکي به ددی توان ولری چي دآب وهو دتغیر بحران حل وفصل کړي ؟

که دا کارونکړ ي یا په دی قادرنشی چی نوموړی بحران حل کړي نوترکال (2040) پوری دآب وهوا یا داقلیم دتغیراتو منفی اغیزی به پر اقتصاد باندی تر هغه کچی پوری به ورسیږی چی د ا قتصا د له پلوه د حل لار به ونه لری . نو په دی وجه دغه سیستم په کلی بڼی سره به ګرم وګڼل شی کوم چی ونتوانید چی داقلیم بحران حل کړي که چیری دپانګوالي خصوصی سود دآب وهوا ربحران سره په ګډ هما هنګی سره د ا نبساط په حا ل کي سره پا تي شي ، کیداي شي چي دسرمایی سود وسائل شی او آب وهوا بحران حل شي؟ مونږ شا ید دا روند وګورو ، ا ما زه ورته خوشبین نه یم چي دوه نفر سره وکولای شي پخپل مینځ کی ګډ همکا ری ته دوام ورکړي ؟

## 2- آ یا سیستم کولی شي چي د ټیکنا لوژی د بد لون راتلونکی لوی منفي اغیزې کنټرول کړي ؟

مونږ لید لي یا دهغه شاهد یا ستو چي تکنا لوژی څرنګه ما لي با زارونه اوکا ر ته بد لون ورکړی اویا تغیر ورکوي ، کوم چي دغه تغیر له (80) سلنه تر(90) سلنه پوری کارګری طبقي ته شد یداْ نقص رسوي ، دا د کسب و کا ر نوی ایجا د کړ شوی مُدلونه لکه **اما زون** (Amazon) ، **اوبر** (Uber) ا و نور دي چي د هغوی په مینځ راتلو سره د ندی اوداجوری عواید له مینځه تللی اویا کمه شوی دي .په متحده ایالاتو کي له (50) میلیون کا رګرانو څخه زیا ت په موقتی دندی (contingent Labor) مصروف دي یا نیم مهال کار(part tme) تر سره کوی (البته په اروپا او جا پا ن کی لا ددی نه زیات شمیر ) اودا فقط ددی ډول دندو پیل دي – واقعی بحران به هغه وخت را پیل شي چي په راتلونکي لسیزه کي دهوش مصنوعی(**Artificial In telligence =AI**) تکنالوژیکي اغیزی اود ما شین د نرم افزار زده کړي تاثیر لا پسي زیا تی شي . لکه هغسی چي په دي وروستیو کي د مکینزي( Mckinsey) تحقیقی مشورتي موسسه دخپل مطا لعا تو په لړ کي دا سي پیش بینی کړي چي حد اقل(30) سلنه ټول دندي اوشغل شاید چي تعویض اویا کمه شي. نو په هغه صورت کي دغه افراد یا خلکو به څنګه وشی کړی چي یو معقول اومنا سب ژوند خپله کړي ، کورني تشکیل کړي ، ځانته کور یا مسکن برابرکړي .....؟ ځنی ځنی بیا وایي چي تضمین کړل شوی ثابت عواید دي پوښتنی ته ځواب وایي اما زه داسی یو سرمایه دار نه وینم چی ددي خبری پلوی وکړي اویا دی ته د موافقی

کولو سر ونښوروی – دا یوډول ساختا ری اصلاح یا ریفورم دي چی دنوک اودغاښ په مقا بل کي کلک او مقاوم باید اووسی ، د(**هوش مصنوعي**) سیاسیی او اقتصادی پایلي ( پاملرنه = AI) که چیري ددی مجوز ورکړي چی دا کا ر ترسره شي او په توله نړي کي په سلګونو میلیونو کا رګرانو لپا ره دژوند معیارونه وخیږي؟ دلته بیا نو دپانګوالي سیستم نه لیدل کیږی یعنی چي دغه سیستم له مینځه تللی اویا نسکور شوی ځکه چي دا د **هوش مصنوعي** له لاری ګټه تر لاسه کوي یا ددندی ،عاید اود ژوند میعارونو باندي د خپلو لویو منفی اغیزو د نرمولو توان لري یا چمتو کوي .

## 3- آیا دوی د نابرابروعوایدودګړند یتوب په مورد کي به څه کاروکړی شي ؟

پا نګوالانو اوسیا ستوالو په دی مورد کي خبری اتری کړی دي اما تر اوسه پوري دهغه لپاره د کوم حل لاره نه دی موندلي د هغوی یوه درک او یا پوه زمونږ په مقا بل کي دادي چي زیات کا رګران اوس پوره هوښیار شوی یا داچي دهوښیاری په لور سره روان دی کوم چي دا پخپله دنړی په سطح کي دښی اړخ پو پولیزم دقهراود عصیا نیت موجبات را برابر کړي دي، همدارنګه په زرګونو شمیر ځوان کارګران اود (Z) نسل ( یا دانترنیت نسل ) کوم چي په راتلونکي کی سر را پورته کوی نو ددی نظام به مقابل کي دریږي او یا پخپل وار سره د هغه پرضد به وځرخیږي لکه چي همدا اوس په متحده ایالاتو کي دیولړ نظر سنجي له مخي داسی څرګند شوی چي د (30) کلنو څخه کم عمر ځوانان دسرمایه داری نظام ردوی او دهغه سره خپل مخا لفت ښکا ره کوی او د سویسالیزم یو ډول نظام رامینځته کید و ته ترجیح ورکوي لذا مونږ. باید له دی کا ر نه بل زیا ت کار ونکړو ، دسوسیالیزم مفهوم هغوی ته هیڅ یوله پورتنیو مواردو څخه په موجوده حا ل کي نشته .

## 4 - آ یا پا نګوالان کولای شي چي د ښی لاس پوپولیستا نو ډار او وحشت کنترول کړي ؟

هغوی داسي انګیرل چي کولای شي ، اما دهغوی هڅی او اند په دي برخه کي دکوم لاسته راوړنی سره مل نه وه یعنی دهغوی دهڅو په ترڅ کی دحل لاره ونه موند ل شو همدارنګه هغوی داسي فکر کاوه چی دونا لد ترامپ کنترولولی شي اما هغه یعنی دونالد ترامپ دامریکي جمهوریخواهان د سرما یه داری د سنتی استا ذیتوب څخه د باندی رابا سی او هغوی د لمړی ځل لپا ره پخپل اداره کي ځاي پر ځاي کوي. او خپل داخلي مخالفین برخلاف دهغه چي داروپا په ځنو برخو اویا دجنوبی آسیا په هیوادونوکی واقع کیږي دوی وړی کړ. معتد ل ایدولوګان لکه **دونا لد ترامپ** اودامریکی نوی محا فظه کاران (نیوکان) هغه ډلی اوتپلی دی چي قوانین ته دخپل ګټو دتر لاسه کولو دپا ره بدلون ورکوي اود سنت ګرایا نو پرځای ځنی وختونه پرخپل ځا ن باندی د جها ن ګرایان

(globslists) نوم ایږدي. مګر دا په حقیقت کي د نړیوال سرمایه داری په د ننه کي دیو داخلي طبقي دطبقا تی مبارزی په مورد کي دي کوم چي په امریکا اودنړي په ټولو برخو کی ترسره کیږي . دژوند داستاندارد دبحران د نظر متهاجم اوخشونت پلو ملاتړي دخپل نظرددفاع دفرصت دترلاسه کولو لپاره ددولت ایرات او بیروکرسی پخپل چوپړکی اچوی نه د سنتګرایانو په خد مت کي دوی په مستقیم بڼی سره حکومت کوی حتي تر دی چي هغوی دحکومت ملګری دخپلو مقاصد و د ترلاسه کولو دپا ره په یولړ د یکتا توری ډول کړنو با ندي هم لاس پوري کوي ، په هرصورت زه لا تراوسه نه ګوروم چي سرمایه داران دیولړ پرمختګونو په پلی کولوکی بریا ترلاسه کړي وي بلکه دا ډول بدلون پخپله دیو ډول افراطی قوانیونو په لوری حرکت دي ا ما د لته ځنی موازی تا ریخی پیښی هم لیدل کیږي اوداهمغه څه دي چي هیټلر د (1930) په لمړیو لسیزو کي دیو لنډ مودی دپاره ترسره کړاما دلته دهټلراود دونالد ترامپ اودهغه دنظرخاوندانو اودهغه داستراتیژی په نظرکي نیولو سره ځنی تاریخی اختلاف ترسترګو کیږي ٬ داپیښه په المان کي ترسره شو اوداځکه چي هلته په الما ن کي اجتماعی او اقتصا دی بحران زیات ژور او شد ید شوی وه اوپه ( 1920) لسیزو کی د یو لنډ مودی د پا ره زیات متمرکز شوی وه ، په امریکي کی لاتراوسه بحران ډیر شدید شوی نه دي اوپه دي موده کي چی دونالد ترامپ په واک رسیدلی د سیا سیی سیستم روند دوام لری او لا وخت غواړي اما سره له دي بیاهم د پروسي سره ورته والي لري . د سرمایه داری سنتی اړخ اوجها ن ګرایان په ښکاره بڼی سره په امریکا کي خپل موقف دلاسه ورکوي نو که چیری **دونا لد ترامپ** په کال (2020) کی د دوهم ځل د پا ره قدرت بیا ترلاسه کړي او د دی امکان وجود ولری چی په امریکا کي اقتصا دی بحران وجود ونه لری یا د اچي ا قتصادی بحران دخپل مقد ما تي درشل کي اووسي نو په هغه صورت کي دا مریکی په دموکراسي ، سیا سیی فرهنګي او نورو نها دونو کی به په ښکاره بڼی سره تحول ولیدل شي. اوپه ورته وخت کي مونږ شاید دسرمایه داری دنظام دځنو خفیفو تحولاتو درا ښکاره کیدو شاهدان په انګلستان،مرکزی اروپا اوحتی په بیره سره په فرانسه ،په فلیپین ،هند ،برازیل ارژانتین دافریقا په ځنو هیوادونو اونورو برخو کی اووسو . زه داسي فکر کوم چي دسرمایه داری سنتګرایان هیڅ یو داسی ایده یا استراتیژی په لاس کی نه لری چي ددی راتلونکی تحولاتو مخه ونیسی .

**---------------------------------------- په سلامونو «2019-06-19»**